۱:د وچوبی په مقابل کی مقاومونباتاتوپانی نری اودستنوپه شان اوپه پانوکی دمنفذونو مقدارکم نوتبخیر اوتعرق یی کم اود وچو بی په مقابل کی یی مقاومت زیات دی چه بنه مثال یی تول ستن پانی نباتات دی.

۲:د وچوبی په مقابل کی دمقاومونباتاتوپانی نری وی اوکه پلنی خوچه دمومی یا واکسی موادو په وسیله پوښل شوی وی نود غه مواد دزیات تبخیر اوتعرق مخه نیسی اونبات ته دوچوبی په مقابل کی زیات مقاومت ورکوی چه بنه مثال یی دپستی ،لاچی اوبید روسی نباتات دی.

۳:د وچوبی په مقابل کی دمقاومونباتاتوپانی د Save guard cell په نامه محافظوی حجرات لری چه دضرورت پروخت کی دمنفذونویا Stomata دبندیدواوخلاصیدو وظیفه پرغاړه لری اونه پریږدی چه بی وخته اوبی ضرورته خلاصی اویاهم بندی شی چه په دغه عمل سره هم دنبات دتبخیر اوتعرق مخه نیسی اونبات ته دوچوبی په مقابل کی مقاومت ورکوی چه بنه مثال یی دزقوم اوادی ته ورته نباتات دی.

۴:د وچوبی په مقابل کی د مقاومونباتاتودپانومخ دپختی په شان پت پوښلی دی چه د لمر د وړانګودمستقیمولګیدوڅخه مخنیوی کوی اودزیات تبخیر څخه مخنیوی کوی اودوچوبی په مقابل کی دنبات مقاومت زیاتوی چه بنه مثال یی دلمرګلی، د یوتعداد غنمو ،د یوتعداداوربشو ورایتی ګانی ددغه خاصیت لرونکی دی.

۵:د وچوبی په مقابل کی دمقاومونباتاتوپانی په حادو اوسختوشرایطوکی خپلی پانی رانغاړی اودتبخیراوتعرق اندازه را کموی چه ډیری نباتات لکه جوار اویوتعدادغنم اواوربشی د دغه خاصیت لرونکی دی.



۶:د وچوبی په مقابل کی دمقاومونباتاتوریښی اوپه خاصه توګه Top Root یعنی مستقیمی ریښی په ځمکه کی عمیق نفوذ کوی اونبات ته دوچو بی په مقابل کی مقاومت ورکوی چه بنه مثال یی دتوت اوپستی ،زردالو، بادام اوپه مجموع کی تول ستن پانی نباتات د دی خاصیت لرونکی دی.

۷:هغه نباتات کوم چه لنډه نمویی دوره ولری اوپه کم وخت کی خپله نمویی دوره تکمیله کړی داډول نباتات هم په وچو سیموکی دقناعت وړنباتات ګڼل کیږی چه بنه مثال یی دمی اونخودوهغه ورایتی ګانی دی کومی چه لنډنمویی دوران لری اوډیر غوره والی یی په دی کی دی چه په بارانی موسمونو کی وکرل شی اوپه بارانی موسمونوکی رفع حاصل شی.

**د وچوبی په مقابل کی دمقاومونباتاتوله جملی څخه یوهم د زعفران نبات درپیژنو:**

زعفران چه انګلیسی نوم یی Saffron اوعلمی نوم یی Crosus sativa اود Iridaceae په کورنی پوری تړلی نبات دی هغه یی چه په افغانستان کی کرل کیږی په نری کی دافغانی سری طلا یا Afghan red gold په نامه سره شهرت لری، څوکلن نبات دی یعنی دبنوزراعتی عملیاتودعملی کولوپه صورت کی حتی دیوځلی کښت کولوسره تر اوو(۷) کلونوپوری حاصل ورکوی.

**د زعفران نباتی ځانګړتیاوی:**

زعفران چه دڅوکلونونباتاتوله جملی څخه دی چه پیاز یابصله یی په خاوره د ۲۰سانتی متروپه عمق باندی خښیږی اوبیاوروڅخه لومړی ګلان اووروسی دحقیقی دساقوڅخه پرته پانی رازرغونیږی چه دګلانو دتولیدوڅخه وروسته پانی شنی پاته کیږی.



**وزارت زراعت، آبیاری و مالداری**
ریاست عمومی انستیتوت تحقیقات زراعتی
ریاست تحقیقات تطبیق و توافق
دیپارتمنت تحقیقات در مناطق خشک

# دوچوسیموپیژندنه





**آدرس:** ریاست عمومی انستیتوت تحقیقات زراعتی، بادام باغ، کابل
**ویب سایت:** www.aria.gov.af
**ترتیب کننده:** صاحب داد مهذب
**تصحیح کننده:** کمیته نشراتی ریاست تحقیقات زراعتی

## مقدمه:

څرنګه چه ګران هیواد افغانستان یوغرنی هیواد او داراضی ډیره برخه یی غرونو اوهواروډښتونیولی اودبحرله سطحی څخه لری اوورسره کومه رابطه نلری نوځکه دمختلفواقلیمونولکه وچ،نیمه وچ ،مرطوب اونیمه مرطوب اقلیمونه لری چه داراضی زیاته برخه یعنی ۵۵سلنه یی دوچ اونیمه وچ اقلیم لرونکی ده اوداچه په هیواد کی دوګروشمیرورځ تربلی مخ په زیا تیدو اودمزروعی ځمکوتعویض کیدل په مسکونی سیموباندی ددی باعث کیږی ترڅودهیواد دوچو سیمو څخه هم دکرهنی په برخه کی پرځای اومعقوله ګټه واخلو او هغه نباتات باید پکی وکرل شی کوم چه دوچوبی په مقابل کی زیات مقاومت لری.

## د وچوسیمو پیژندنه:

وچی سیمی هغوسیموته ویل کیږی چه د کلنی اوربښت اندازه یی کمه او د نباتاتونموبی دوره نشی تکمیلولی یا هغوسیموته ویل کیږی چه د کلنی اوربښت اندازه یی د۲۵۰ ملی متروڅخه کمه وی اوپه وچوسیموکی اوربښت غیرمنظم یعنی کله اوربښت شدید اود باران اوبه د ګټی اخستنی څخه پرته د زیاتوتخریباتوسره د سیمی څخه خارجیږی اوکله هم اوربښت شتون نلری، په نوموړو سیموکی اوړی زیات تود او وچ اوژمی یی زیات سوړ اود تندوبادونوسره مل وی .

## د وچوسیمو ځانګړتیا وی:

داچه خاوره د اوبو،هوا،عضوی اوغیرعضوی موادو یومخلوط دی اوکچیر دغه مواد داعتدال د حالت څخه ووځی نود کښت لپاره مناسبه نه وی نوپه همدی اساس د وچوسیموخاوری د دغه اعتدال څخه وتلی اود عضوی



موادوشتون پکی ډیرکم لیدل کیږی، د خاوری حاصل خیزی یی کمه ،دنباتی پوښښ څخه لوڅی،دخاوروسترکچراوتکسچریی خراب اود نباتاتود زرغو نیدواونموبی دوری دتکمیلیدوتوانمندی یی کمه وی.

## دوچوسیموخاوری دکښت لپاره تیارول:

داچه د وچوسیموخاوری منظم سترکچراومناسب تکسچرنلری،د خاوروحاصل خیزی یی هم کمه اوله بل لوری د اوربښت اندازه یی هم غیرمنظمه وی نو باید چه په لومړی قدم کی د خاوروسترکچر اوتکسچرجوړ،حاصل خیزی یی زیاته اوهغه نباتات پکښی وکرو کوم چه له یوه لوری د خاوری د سترکچراوتکسچردجوړیدوباعث شی اوله بل لوری د خاوری حاصل خیزی هم زیاته او د خاوری د تخریب څخه هم مخنوی وکړوچه په دی توګه له یوه لوری په خاوره کی د رطوبت ساتلو توا نمندی زیاتؤاوله بل لوری په خاوره کی د نباتی پوښښ وړتیا هم زیاتولی شو چه په دغه ترتیب سره حتی د وچوسیمو اقلیم ته هم تغیر ورکولی شوچه د هوانسبتی لندبل هم زیاتولی شو.

## په خاوره کی د رطوبت ساتلود وړتیا زیاتول:

داچه په وچوسیموکی خاوری د لندبل ساتلوتوانمندی اود نباتاتود زرغونیدو اونموبی فصل د تکمیلیدوتوانمندی کمه دی نود خاو ری د سترکچراوتکسچر اصلاح کول،په خاوره کی د عضوی موادوعلاوه کول اود هغونباتاتوکرل کوم چه له یوی خواد خاو ری سترکچراوله بلی خواد خاوری حاصل خیزی اوله بلی خواپه خاوره کی د رطوبت ساتلوتوانمندی زیاتوی باید عملی شی چه دغه عمل د وچوسیموپه کرهنه کی یومهم اصل تشکیلوی نوعملی کول یی زیات اړین بلل کیږی.



## د خاوری د سترکچر او تکسچراصلاح:

دګران هیواد په وچوسیموکی معمولا دخاوری سترکچراوتکسچر دواړه خراب، حاصل خیزی یی ټیټه اوکرهنیز عملیات پکی په سختی سره عملی کیږی، کرهنیزمحصولات د کمیت اوکیفیت له اړخه په ټیټه کچه کی قرارلری نودکرنیزو عملیا توپه عملی کولوسره کولی شوچه د دغو خاور و تکسچر اوسترکچردواړه اصلاح اوپکی د حاصل خیزی زیاتول اړین ګڼل کیږی چه دغه عمل دوچوسیموپه کرهنه کی یومهم اصل ګڼل کیږی.

## په وچوسیموکی دتولوطبعی شتمنیو(NRM)څخه پرځای اومعقوله ګټه اخستنه:

تولوته بهتره معلومه ده چه ګران هیواد افغانستان د طبعی زیرموله پلوه غنی یعنی په کافی اندازه لمرینه انرژی،په کافی اند ازه بادی انرژی،په کافی اندازه اوبه ،په کافی اندازه خاوره اوهوالری چه ددغومنابعوڅخه هریویی دکرهنی اوژوند په بر خه کی ځانګړی ارزښت لری اوددغومنابعوپه نه شتون کی د تولوژوندیوموجوداتوژوند دامکان څخه وتلی اویا به هم د زیاتو مشکلاتوسره په مخ روان وی نوباید چه ددغوغوره شتمنیوڅخه معقوله ،موثره اوپرځای ګټه واخلواودخدای جل جلا له دنعمتونو شکرآدا اوخپل مسولیتونه پرځای کړو. نووږی به مو ماړه،لوڅ به موپټ ،صحت به موروغ ،اقتصاد به موپیا وړ ی اوعقل به موسالم اودچا دښکارلاندی نه اوډیر ښه خو داچه هیواد به موخود کفا وی.

## د وچوبی په مقابل کی د مقاومو نباتاتومشخصات:

د وچوبی په مقابل کی مقاوم نباتات ځانله ځانګړتیاوی لری چه د هریوه څخه په لاندی توګه یادونه کیږی: